# مصنوعي ځیرکتیا

Artificial intelligence

Ketabton.com

لیکوال: تاج محمد مبین

کال : ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب په اړه !

نوم : مصنوعي ځیرکتیا

لیکوال: تاج محمد مبن

تایید کونکي : محمد کبیر رحیمي (دکندهار پوهنتون استاد)

چاپ:     /

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

داچی نن سبا ټکنالوژی ورځ تر بلی ده پرمختګ په حال کی ده او په خاص ډول ده ننی نړی پام ده مصنوعی ځیرکت طرف ته اوښتی دی او ددی په مرسته مختلف ماشینونه او سیستمونه ده خپل کارده اسانه کولو او زدکړیزو پرمختګونو لپاره جوړوي نوپه همدي دلیل غواړم په همدی مقاله کی تاسو ته ده مصنوعی ځیراکت په اړه معلومات درکړم چی په دی مقاله کی شامل دی .

- ده مصنوعي ځیرکتیا پیژندنه
- ده مصنوعی ځیرکتا اړوند سیستمونو ده کار کولو طریقه
- ده مصنوعی ځیراکت په جوړښت کی ده پروګرامینګ ژبورول
- ده مصنوعی ځیرکتیا ګټی زیانونه او نور .....

نو دی او دی ته ورته نور معلومات ده مصنوعی ځیراکت په اړه په دی مقاله کی شامل دی.

هیله لرم چی ستاس و ده پوهی کچی په لوړولو کی ګټور تمام شي.

**په درنښت :-** تاج محمد مبین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مصنوعی ځیرکتیا{Artificial Intelligence}

په دی وروستیو کلونو کی چی هر نوی ځیز چی بازار ته راوزی نو خلک یی ده ځیرکتیا په هکله خبری کوی لکه ټلیفونونه ، موټرونه ، روباټونه او نور ځیرک شیان ده مصنوعی ځیرکتیا څخه په استفاده اوس نړی ډیر پرمختګ کړی دی امنیتی کیمری ، ټرافیکی سیټمونه ، روغتیایی ماشینونه اونور پرمختللی سیټمونه  له مصنوعی ځیرکتیا څخه کار اخلی ان تردی چی مونږ په ورځنی ډول هغه توکی هم خورا ډیر کاروو چی مصنوعی ځیراکت لری  ده بیلګی په ډول ګوګل اواز لټون{Google Vice Search }ده ګوتی ، سترګی او ځیری قلفونه , Finger , Eyes } Face Luks } دا ټول  هغه څه دی چی ده مصنوعی ځیراکت څخه په ګټی اخستنی کار کوی خودا هغه څه دی چی  مونږ ورسره اشنایوو داسی

نور شیان هم سته چی مونږ ډیره اشنایی نه ورسره لرو مګر ده همدی ځیراکت ځخه په ګټي اخستنی داسی کارونه کوی چی یو عادی انسان یی نه شی کولای ده بیلګی په ډول داسی  ویب سایټونه شته چی کولای شی ده موضوع په ورسپارلو سره ده هغی موضوع اړوند معلومات اویا یو مقاله ولیکی  اویا هم که وغواړو یو انځور داسی راته رسمولی شی چی یو انسان به یی په ډیر زحمت سره رسموی.

## مصنوعی ځیراکتیا

- ❖ ده یو انسان غوندی فکر کوی
- ❖ منطقی فکر کوی
- ❖ ده انسان به ځیر عمل کوي
- ❖ په منطقی توګه کار کوی

## ده مصنوعی ځیرکتیا پیژندنه

ده مصنوعي ځیرکتیا ده پیژندنی اړوند مختلف نظریات شتون چی ځینی یی په لاندی ډول دی


- ✓ مصنوعی ځیراکت ده ټکنالوژی اړوند ځانګه ده چی هدف یی ده هوښیارو ماشینونو رامنځته کول دی داسی چی ده هغو کارونو ده ترسره کولو وړتیا ولری چی  ده انسان پوهي اوزکاوت ته اړتیا لری.
- ✓ مصنوعي ځیرکتیا په عمومی توګه هغو سیسټمونو ته اشاره ده چی کولای شی داسی کارونه ترسره کړی چی ده انسان ده ځیرکتیا اړوند وی  او هدف یی دداسي ماشینونو جوړل دی چی وکولای شی ده انسان په څیر فکر وکړی ده انسان په څیر استدلال وکړی یوشی زده کړی او په خپله تصمیم ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ مصنوعی ځیراکتیا هغه څه دی چی ده مختلفو پیچلو ریاضیکی او الجبری افادو څخه په ګټی اخستنی په یوه ماشین کی داسی شرایط چمتو کړی چی وکولای شي په مختلفو شرایطو کی ده ده انسان په ډول مختلفی منطقی چاری ترسره کړی.
- ✓ ده مصنوعي ځیرکتیا ماشینونه مخکي له دی چی ده یوکار لپاره چمتو شي باید ده هغه کار اړوند مهارتونه وروښودل شی او په ماشین کی ثبت کړل شی ددی خبری اړوند یو مثال په لاندی ډول دی:


:- مثلاً موږ غواړو ده کروندی لپاره یو روباټ جوړکړو نو باید موږ ده کروندی اړوند ټول معلومات مثلا ځمکه چیری اوښنګه ده چاپیریال یی څنګه دی هوایی څنګه ده ده اوبو ترکیب یی څنګه دی او داسی نور معلومات باید په روبوټ کی ثبت کړو تر څو هغه وکولای شی ځپل په کاری ساحه کی ده هغه په مرسته کار وکړی چی دی ته عمومی زده کړه یا {General Learning} وایی. چی دا ده مصنوعی ځیرکتیا اصل یا تهداب دی اوس نو موږ دا روباټ په کرونده کی خوشی کوو




که چیری دی ده یوه داسی دوه لاری سره مخ کیږی چی په هغه کی خندونه او خرابی وی او بله لار هواره وی دلته دی دهغه معلوماتو پراساس چی مخکی پکی ځای پرځای شوی وه ده سمی لاری انتخاب کوی چی دی ته{Reasoning} یا استدلال کول وایی چی دایی دوهم اصل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library






وروسته دی مثلا ده اوبو سره مخ کیږی او دی خپل ده لومړیو معلوماتو پراساس فکر کوی چی زه خو تر او بو نسم تیریدای او که چیری ده دی او بو پر سر یو شي وی زه کولای شم چی ترینه تیرشم نو دی خپل ده لومړیو معلوماتو پر اساس فکر کوی او یوه تخته وینی او ده هغه تختی په وسیله تر او بو اوړی چی دا یی دوهم تهداب یادلومړیو معلوماتو په وسیله ده ستونزی ده حل وړتیا ده چی دی ته {problem solving} وایی



**ده مصنوعی ځیرکتیا برخی:**

مصنوعي ځیرکتیا بیلابیلی برخی لری لکه ماشینی زدکړه ، ده طبیعی ژبی پروسس ، کمپیوټری لید او روباټیک په بر کی نیسی .

**ماشین زدکړه**

ماشین زدکړه ده مصنوعی ځیرکتیا ډیره مهمه برخه ده چی ده الگوریتمونو او احصایی ماډلونو څخه جوړه ده او په وسیله یی کمپیوټر دا توان مومی چی ده کومی وړاندوینی پرته پخپله یو څه وکړی په ډیرو ځایو لکه روغتیا مالی خدمات او ده وړلو راوړلو سیستمونو کی تری استفاده کیږی او ده هری ورځی په تیریدو زمونږ ژوند او ده کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ته بدلون ورکوی. دماشین دزده کړي اصلي تمرکز د کمپیوټرډپروګرامونو رامنځته کول دي چي کولای شی ډاټا ته لاس رسی ولري او دزده کړي لپاره یی وکاروي .

**دمصنوعي ځیرکتیا څانګي**

مصنوعي ځیرکتیا مختلفی څانګي لري چي ځیني یي په لاندي ډول دي .

متخصص سیسټمونه د مصنوعي هوښیارتیا یوه څانګه ده چې کولی شي د تصمیم نیولو پروسه د یو متخصص د فکر کولو طریقې په انډول کولو سره ترسره کړي، متخصص سیسټمونه د مصنوعي هوښیارتیا پر بنسټ سافټویرونه دی چې د انسان پوهه زده کوي او د پریکړې کولو لپاره دا پوهه تقلید کوي، دا سیسټم د پیچلو ستونزو د حل لپاره منطق کاروي

**عصبي شبکه.**

عصبي شبکه د مصنوعي ځیرکتیا یوه څانګه ده چې هڅه کوي د مصنوعي دماغ نیورونونو په کارولو سره پیچلې ستونزې حل کړي. عصبي شبکې د "ژورې زده کړې" په نوم هم پیژندل کیږي.

د دې څانګې د کارولو په منځ کې، لاندي برخي شته

د خطر تحلیل

د بازار څیړنه

د درغلۍ کشف

د مخ پیژندلو تصدیق

**د طبیعي ژبې پروسس کول**

د طبیعي ژبې پروسس کول د کمپیوټر وړتیا ده چې د انسان په وینا پوه شي، ډیری خلک دا څانګه د NLP په نوم پیژني.د طبیعي ژبې پروسس کول د انسان د وینا، لیکلو او اړیکو ماشین درک کول دي.د دې تخنیک په کارولو سره، کمپیوټر کولی شي د ژبني معلوماتو څخه احساساتي پایلې ترلاسه کړي او د هغې پر بنسټ پریکړې وکړي

**د ماشین لید**

په دې طریقه کې ماشین هڅه کوي چې دوه اړخیزه انځورونه پروسس کړي او ده خپل لید لپاره یي وکاروي، په دې تخنیک کې، کمپیوټر زموږ نړۍ د کمرې په کارولو سره ګوري، د ماشین لید ده الګوریتم په کارولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروسس کوي او بیا يې تحلیل کوي، په پای کې. دوی کولی شي په عکس کې شیان درک کړي او د دوی ډول سره سم ځانګړي پریکړې وکړي.

**روبوټیک سیستم**

په داسې سیستمونو کې د شاوخوا چاپېریال معلومات د مختلفو او هوښیار سینسرونو په کارولو سره ماشین ته ورکول کیږي، په پای کې ماشین د ترلاسه شویو معلوماتو په پروسس کولو سره ځینې پایلې په ګوته کوي او د هغې له مخې پریکړې کوي، دا روبوټ کولی شي په مختلفو شرایطو کې ژوند وکړي دوي دانسانانو درفتار تقلید کوي او دوي کولاي شي دخپلو معلوماتو پربنسټ له غلطي څخه زدکړه وکړي دبیلګي په توګه یو روبوټ مونږ دروند انسان په څیر فرض کوو کله چي روان وي او دده په مخه یو مانع څیز ورځي نو دي پوهیږي چي دالار صحي نه دي نو پر بل طرف ځي نو په همدي ډول دوي کار کوي .

**مصنوعي ځیرکتیا څنګه کار کوي ؟او یا هم دمصنوعي ځیرکتیا ده درک او پیژني اساس څه شي دي ؟**

لکه وړاندې چې ورته اشاره وشوه، مصنوعي ځیرکتیا د الګوریتمونو، ډېټا او محاسباتي وړتیا د ګډ ترکیب له مخې کار کوي تر څو ماشینونو ته د داسې کار د کولو وړتیا ورکړي چې عموما انساني ذکاوت ته اړتیا لري. د مصنوعي ځیرکتیا د درک او پېژندنې وړتیا څو مهم عنصرونه لري

**الګوریتمونه:**

مصنوعي ځیرکتیا پر الګوریتمونو متکي دی. د مصنوعي ځیرکتیا بېلابېلو اړخونو لکه د نمونې تشخیص ( pattern recognition)، تصمیم نیونې او یاد ساتنې ته د رسیدګۍ لپاره دا الګوریتمونه له ډېټا څخه جوړیږي.الګوریتمونه د هغو لارښوونو ټولګه او یا هم اجرایي سلسله مراتب او ګام پر ګام روښونه دي چې د یوې ځانګړې ستونزې د حل او یا هم یوه خاص کار د کولو لپاره طرح شوي دي او د کمپیوټري سیستمونو په وسیله د اطلاعاتو پر پروسېس او د کارونو پر کېدلو څارنه کوي. الګوریتمونه مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته منطق برابروي او لارښوونه ورته ورکوي چې بېلګې تشخیص کړي، وړاندوینې وکړای شي او پروسېس په ښه شکل ترسره کړي.

**ډېټا :**

هغه معلومات او یا اطلاعات دي چې د کمپیوټري سیستمونو په وسیله را غونډېږي، زېرمه او پروسېس کېږي. بېلابېلي بڼې لري لکه متن، شمیرې، انځورونه، غږ، ویډیو او یا بل هر ډول ډیجیټلي څه. ډېټا د مصنوعي ځیرکتیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشيني زدکړې لپاره بنسټيز حيثيت لري ځکه د همدې په وسيله د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه د يو څه د زده کولو، تصميم نيولو او يا د يو څه د توليدولو وړتيا پيدا کوي. د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې عموما له ډېټا د زدکړييزو ماډلونو لپاره کار اخيستل کېږي،

**زده کړه او ماشيني زده کړه :**

د مصنوعي ځيرکتيا موډلونو ته له ډېټا په استفادې زده کړه ورکول کېږي تر څو نمونې، اړيکې او ځانګړنې زده کړي او وکولای شي چې يو لړ ځانګړې دندې ترسره کړي. په زده کړه کې د پارامترونو تنظيم او د ورودي (input) ډېټا پر اساس د الګوريتمونو پياوړي کول دي تر څو يې اجرايوي فعاليت ښه شي. د زده کړې ځينې تکتيکونه لکه تر نظارت لاندې يو څه زده کول، له نظارت پرته يو څه زده کول او يا هم تقويتي زده کړه د مصنوعي ځيرکتيا د زدکړييزو موډلونو لپاره استفاده کېږي.

**شننه او تصميم نيونه:**

تر زده کړې وروسته د مصنوعي ځيرکتيا موډلونه کولای شي د نوي ډېټا پر اساس استنباط وکړي او تصميم ونيسي. دوی د زده کړې پر مهال لاس ته راوړې پوهه د شننې، تحليل، نويو ورودونو (inputs)، بهرنيو توليدونو او يا وړاندوينو لپاره کاروي. دا پروسه د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونو ته اجازه ورکوي چې په انځورونو کې شيان تشخيص کړي، ژبه وژباړي، د توليداتو سپاربښتنه وکړي، ناروغۍ تشخيص کړي او ډېر نور کارونه وکړي.

:ـ نو ده پورته کارونو په مرسته يو ده کمپيوټر سيسټم يا روبوټ کار کوی .

## ده AI اهداف

په کلي توګه مصنوعی ځیرکتیا هڅه کوی چی ځیرک سیټمونه جوړکړی چی وکولای شي په ځینو چارو کی ده انسان په څیر او یاهم تر انسان وړاندی شی لکه ده خبرو تشخیص ، ده انځورونو پروسس کول ، تصمیم نیول ، او نور

ده مصنوعی زکاوت اساسی هدف ده انسان هوښیارتیا او ده هغه ده کار کولو طریقه په داسی ډول تعریفول دی چی ماشین یی په اسانی سره پلی کولای شي او هغه ته سپارل شوی دنده په سمه توګه ترسره کړی چی یادی موخی یی پر 3 بنسټو ولاړی دی .

| زدکړه | استدلال | پوهه |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه مصنوعیذهانتAI ده کمپیوټرساینس یوه پراخه څانگه ده چی ده داسی هوښیارو ماشینونو رامنځته کولو پوری اړه لری چی ده دندو ترسره کولو وړتیا ولری چی ده دندو ترسره کولو وړتیا ولری .

**Limited artificial intelligence**

**محدود مصنوعي ځراکت**

داډول ځراکت په یو وخت کې یوازې پر یوکار تمرکز کوي یعني یوازې ده یوکار ترسره کولو لپآره پروگرام شوي وي او یوازې دهغه کار ترسره کولو وړتیا لري چي په ده کي یې ډیټا ثبت شوي وي دبیلگې په ډول ده (alphago)لوبه چي په( 2017 ) کال کي یې ده همدي لوبي وه یوه اتل ته ماته ورکړه خو کله چي همدي ماشین ته دسطرنج لوبه وړاندي شوه نو هغه نه پوهیده چي څنگه یې ترسره کړي اوله کوم ځاي څخه یې پیل کړي ځکه په دي ماشین کي ددي لوبي اړوند ډیټا او معلومات نه وه ثبت .

همدارنگه دوی شعور، پوهاوی او ریښتینې هوښیارتیا نلري چې د انساني استخباراتو سره سمون ولري. په بل عبارت، دوی نشي کولی د ځان لپاره فکر وکړي

ده محدود مصنوعي زکاوت ځیني دکار اړوند مثالونه په لاندي ډول دي :-

دهوا حالات معاینه کوي

د ژورنالستیکي راپورونو لیکل

دلوبو (شطرنج....) کول

اونور.....

**مصنوعي عمومي استخبارات**

مصنوعي عمومي استخباراتو ماشینونو ته اشاره کوي چې د انسان په څیر کړنه او عمل ترسره کړه. په بل عبارت، AGI کولی شي په بریالیتوب سره هر هغه فکري دنده ترسره کړي چې انسان یې ترسره کولی شي. دا د مصنوعي استخباراتو ډول دی چې موږ یې په فلمونو  یا نورو ساینسي افسانو کې گورو چیرې چې انسانان د ماشینونو او عملیاتي سیسټمونو سره اړیکه لري چې شعور او احساسات لري او د احساساتو او ځان پوهاوي لخوا اغیزمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي.د AGI څخه تمه کیږي چې استدلال وکړي، ستونزې حل کړي، زده کړه وکړي، په پریکړه کولو کې مخکښی، پوهه یوځای کړي، او نوښتګر، تصوراتي، او تخلیقي پریکړې وکړي.

مګر د دې لپاره چې ماشینونه د انسان په څیر هوښیارتیا ترلاسه کړي ، دوی اړتیا لري تجربه او پوهه ولري.

نوټ :- په اوسني نړي کي تقریباً عمومي مصنوعي ځیرکتیا شتون نلري او یا هم ډیر په کمه اندازه.

**مصنوعي سوپر استخبارات**

د اکسفورډ پوهنتون د فلسفې پروفیسور( نیک بوستروس) د سوپر مصنوعي ذهانت تعریف په لاندې ډول کوي:"هر ډول ځراکت چې کولی شي په ټولو مطلوبو برخو کې د انسانانو د ادراکي فعالیت څخه ډیر کار وکړي دي ته سوپر مصنوعي ځیرکتیا وایي یعني دا ډول ځیرکتیا کي ماشین / سیستم داسي څه کولای شي چې هغه دانسان له ځواک او فکر څخه لوړ وي داډول ځیراکت اوس مهال هیڅ شتون نلري او همدارنګه خلک ددي ځیراکت په اړه اندیښنه لري ددوي په اند چې ددا ډول ځراکت رامنځته کول چې دانسان تر ورتیا یي فکر او ځواک ډیروي دانسان لپاره خطر کیداي شي خو دا چي داډول ځیراکت اوس شتون نلري نو ځکه ددي په اړه هره پریکړه یونظریه او پیشګویي ده .

هغه دپروګرام کولو ژبي چي په مصنوعي ځیرکتیا کي کاریږي !

دمصنوعي ځیرکتیا دکار کولو لپاره او دهغوي دجوړښت او تنظیم لپاره مختلفي دپرګرام کولو ژبي شته چي دځینو مهمو یادونه یي کوو ...

دمصنوعي ځیراکت لپاره: مهمي ده پروګرام کولو ژبي په لاندي ډول دي

**د Python پروګرام کولو ژبه**

C++ پروګرامینګ ژبه

د جاوا پروګرام کولو ژبه

C# پروګرامینګ ژبه

جاواسکریپټ پروګرام کول

د Julia پروګرام کولو ژبه

ده R پروګرام کولو ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوا پروګرامینګ ژبه

اوس به دهري ژبي او دهغي دکار لنډه تشریح وکړو!

**(payhton) :1**

کله چي ده مصنوعي ځیرکتیا، ماشین زدکړي او ډیټا بیس خبره راځي نو په دي کي لومړي ده پایتون پروګرامینګ ژبه یادیږی ده پایتون ژبي ده ساده او منطقي جوړښت له امله نن سبا په هره برخه کي ده پروګرامینګ ډیره زیاته کاریږي په ځانګړي توګه دماشین زدکړي او ده عصبي شبکو جوړولو په برخه کي پایتون په مصنوعي ځیرکتیا کي ده سیستم په منطقي جوړښت او دعصبي شبکو ده جوړولو په برخه کي کار کوي .

**++ C:2**

دماشین زدکړي او دمصنوعي ځراکت دکار اړوند دوهمه ژبه ده چي ده (AI) ده غوښتنلیک او مناسب کار کولو لپاره استعمالیږي همدارنګ یاده ژبه په AI

کي ده ژوري زدکړي او درياضيکي مادلونو دترمیم او په سیستم کي ځاي پرځاي کولو وروسته دسیستم چلول توانایي رامنځته کولو لپاره په کار وړل کیږي

**Java :3**

جاوا یوه ژبه ده چي د ډیری سازمانونو لخوا ده برنامو رامینځته کولو لپاره کارول کیږي

جاوا ده ښخوا په پرتله دنویو ماډلونو په رامنځته که ولو سره ددي زمینه برابره کړه چي په اساني سره زده کړي شي ده مصنوعي ځیرکتیا ده پروګرام جوړولو او پراختیا کي له مهمو انتخابونو څخه ده چي دیو اپلیکیشن جوړول او یاهم په ماشین کي ده ګټورو اپشنونو جوړولو لپاره کار کوي همدارنګه دجاوا په واسطه ماشین دطبیعي ژبي پروسس ، ژوره زده کړه اونور دجاوا ددندو څخه دي په AI کي

**#C:4**

یو مهمه او ده تیز سرعت پروګرام کولو ژبه ده چي په مصنوعي ځیرکتیا کي کاریږي ده #C ژبه په مصنوعي ځیرکتیا کي دمحاسبي او منطقي عملیاتو لپاره کاریږي .

**java script-:5**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاوا سکرېپټ یوه مشهوره، د عمومي هدف ژبه ده چې د پراختیا کونکو لویه ټولنه لري. دا په ثابت ډول ټایپ شوی، پدې معنی چې تاسو ژر تر ژره خطاګانې نیولی شئ او پروګرامونه ګړندي چلولی شئ. او ده ماشین ده کنټرول او زدکړي لپاره کارېږي .

**Julia** -:6

دا د لوړ فعالیت عددي محاسبې لپاره ډیزاین شوی او د ماشین زده کړې ملاتړ کوي

خو داچي Julia نوي او ځوانه ژبه ده نوځکه یي دنورو ژبو په پرتله زده کړه پیچلي او ګرانه ده .

**R programming language**:7

دا د ډیټا ساینس پوهانو ترمنځ د احصایوي پروګرام کولو یوه مشهوره ژبه ده. دا د نورو ژبو سره ښه مدغم کېږي او ډیری اسانتیاوې لري. د درنو معلوماتو پروسس کولو اړتیاو سره د AI لپاره عالي ژبه ده

**prologue programming language**-:8

پرولوګ یوه اعلاناتي پروګرامینګ ژبه ده چې د مصنوعي ځراکت پراختیا لپاره مناسبه ده. دا په لویه کچه د منطق پراساس برنامه کولو لپاره کارول کېږي - د مصنوعي استخباراتو پراختیا اساس کارکوي دیادي ژبي دنیمګړتیاوو څخه یوه داده کي ددي ژبي زکره دنورو ژبو په پرتله ستونزمنه ده

دي او دي ته ورته دنورو ژبو پراساس مصنوعي ځراکت کار کوي دیادوو شویو ژبو څخه هره یو

په AI کي مختلف دندي او اهداف لري .

**ده AI ګټې**

مصنوعي ځیرکتیا دا پوټینشیل لري چې نن او سبا بشریت ته زیاتې ګټې ورسوي. ځینې مهمې برخې چې مصنوعي ځیرکتیا پکې اغېز درلودلای شي په دې ډول دي:

**آتومیشن/خپلسري او اغېز:** مصنوعي ځیرکتیا کولای شي چې تکراري او له خوارۍ ډک کارونه خپلسري/خودکاره کړي او کولای شي چې اغېز او ګټه یې زیاته کړي، همدا راز په لګښتونو، بشري فعالیتونو او بېلابېلو صنعتونو کې سپما کولای شي. په دې توګه انساني سرچینې زیات وخت پیدا کوي چې پر نوښتیزو او پېچلو کارونو تمرکز نور وخت ولګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په روغتیايي څارنه کې پرمختگونه:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي چې د ناروغۍ په ژر تشخيص، د طبي انځورونو په شننه او تحليل، شخصي ډاکټرۍ او د درملو په کشف کې مرسته وکړي. کولای شي چې د روغتيايي څارونکو له متخصصينو سره په دقيق تشخيص او روغتيايي تصميمونو کې کومک وکړي. په دې توگه کولای شي د ناروغ پايلې ښې کړي او د روغتيايي څارنې لگښتونه راکم کړي.

**د پيريدونکو پرمختللې تجربې:** په مصنوعي ځيرکتيا سمبال خبرې کوونکي روباټونه، مجازي مرستندويان او سکرتران او مشوره ورکوونکي سيستمونه کولای شي پيريدونکو ته شخصي او گړندي خدمات وړاندې کړي چې د برېښنايي سوداگرۍ او بانکدارۍ په څېر برخو کې د افرادو د کار له ښه والي سره مرسته کوي.

**غوره امنيت:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي د احتمالي گواښونو د درک په موخه په ډېټا کې نمونې او بې نظمۍ وپېژني، د جرم په څارنه او مخنيوي کې مرسته کولای شي، همدا راز د امنيتي اقداماتو په زياتولو کې مرستندوی تماميدلای شي. له دې سره – سره کولای شي سايبري امنيت په عين زمان کې د سايبري گواښونو په پېژندلو او کمولو سره زيات کړي.

**چاپېريال:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي د چاپېريال ساتنې د مسايلو په څارنه او مديريت کې مهم رول ولري. کولای شي د انرژۍ لگښت راکم کړي، د گټورو سرچينو مديريت ممکن کړي او د اوبو او هوا په څېر ماډلونو په جوړونه، د وحشي ژوو د ژوند په ژغورنه او د ککړتيا په کنټرول کې مرسته وکړي.

**حمل او نقل او ټرانسپورټي تحرک:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي د خپلسري نقليه وسايلو په فعالولو سره د حمل و نقل سيستمونه جوړ کړي، د ترافيکو جريان ښه کړي. همدا راز کولای شي د حمل و نقل خوندي، گټورې او له چاپېريال ساتنې سره ډېرې برابرې شبکې جوړې کړي.

راتلونکي ته په کتلو سره مصنوعي ځيرکتيا دا پوټينشيل لري چې ډېر زيات مهم پرمختگونه به له ځان سره ولري. په لاندينيو حوزو کې يې د اغېز وړاندوينه کېدلای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شخصي زده کړه:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي د زدکړې برخې ته بدلون ورکړي او د شخصي زدکړې هغه تجربې چې له اړتیاوو او وړتیاوو سره برابرې وي شريکې کړي. ځيرک زدکړييز سيستمونه او د تطبيقي زدکړې پلټفارمونه کولای شي زده کړييزې پايلې بدلې کړي او زده کړو ته لاسرسی پراخ کړي.

**علمي څېړنې او موندنې:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي په پراخه کچه ډېټا او نمونې تحليل کړي او د نجوم، جينوميکس، درملو په موندنه او د ميتالوژۍ (د موادو علم) په برخه کې علمي څېړنې چټکې کړي.

**نړيوالې ننګونې:** مصنوعي ځيرکتيا کولای شي د نړيوالو ننګونو په برخه کې مرسته وکړي لکه د اوبو او هوا بدلونونه، د روغتيايي خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې نابرابري. همدا راز کولای شي د ډېټا په تحليل، تصميم نيونه او د منابعو په تخصيص سره د سياستونو ملاتړ وکړي.

## ده AI زيانونه

په داسې حال کې چې مصنوعي ځيرکتيا ګټې ګټې لري، همدا راز يې له پرمختګ او ودې سره ځينې اندېښنې او خطرونه هم مله دي. د مصنوعي ځيرکتيا د راتلونکي په اړه هيڅوک هم په غوڅ ډول نظر نشي ورکولای ځکه دا حيرانوونکې پديده اوس د پرمختګ او ودې په حال کې ده. کېدلای شي چې مصنوعي ځيرکتيا د ټولنې او افرادو لپاره يو لړ ننګونې او خطرونه ولري.

**د نده:** د مصنوعي ذکاوت له لارې د دندو خپلسري کېدل ښايي د کارونو د ادلون – بدلون او اقتصادي اختلال لامل شي. شونې ده چې ځينې دندې او صنعتونه په پام وړ کچه بدل کړي او يو لړ کسان به بې‌کاره کړي او هغوی اړ دي چې د کار د دوام لپاره نوي مهارتونه زده کړي.

**خصوصي حريم او امنيت** د خطراتو او اخلاقي مسايلو په اړه مو وړاندې خبرې وکړې. د بېلګې په توګه، خپلسري نقليه وسايل ښايي يو لړ پرېکړې وکړي چې ښايي مسافرينو او يا هم لارويانو ته زيان ورسوي ممکن يو ربوټيک سيستم چې په مصنوعي ځيرکتيا سمبال وي امنيتي ستونزې رامنځته کړي او همداسې نور لاملونه شته چې پر بنياد يې مصنوعي ځيرکتيا دخطره څخه خالي نه ده .

نوټ :- ده مصنوعي ځيرکتيا ده زيانونو په اړه تراوسه هيڅ يو قانع او غوڅ نظر شتون نلري!

ده ټکنالوژۍ نن سبا ډيره کاريږی او ده استعمال ځايونه لری خو يو مشهوره chat boot چی ده دی ټکنالوژۍ پر بنسټ کار کوی ده chat GPT تر بحث لاندی نيسو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ده Chat GPT پیژندنه

- تر ټولو نوی ژبنی ماډل ( Language Model )دی چې له دریو مخففونو GPT څخه جوړ شـوی دی. چې مانا يې ده (Generative Pre Training) او مختاړی (Chat) يې د دوســتانه خبرو کولو مانا ورکوي.دغه تر ټولو نوی ژبنی ماډل په مصنوعي ځیرکتیا سمبال دی چې د (OpenAI) ډلې له خوا جوړ شـوی او وړاندې کیږي.اســاســاً (ChatGPT) چټ جي پي ټي یو چټ باټ (ChatBot) دی چې په مصنوعي ځیرکتیا سمبال دی او کولی شي ستاسې هر ډول سوال ته ځواب ووايي. چټ جي پي ټي کولی شي بېلابېې موضوع ګانې حل کړي او هر ډول پیچلي بحثونه په مختلفو تخصصي حوزو کې لکه فیزیک، ریاضي، کمپوټر ســـاینس، طب، ادبیات او نورو برخو کې درک او حل کړي د (ChatGPT) ځواب ویونکی روبوټ کولی شي پیچلي او ګونګ پوهنتوني مســـایل حل کړي، همدارنګه وبلاګي مطلبونه تولید کړي، متن غربیز کړي، HTMLپاڼې رامنځته کړي او نور دیته ورته موارد ترسره کړي.

- جوړونکې اداره يې (OpenAI) یوه د مصــنوعي ځیرکتیا اداره ده چې زموږ کار آســانه کوي چې د یوې غټې ډېټا په ملتیا يې (ChatGPT) جوړ کړی دی.دغه الکترونیکي روبوټ ته په مختلفو ژبو او مختلفو فارمټونو کې تربیت ورکړل شوی دی او مهمه خبره داده چې زموږ په طبیعي ژبه پوهیږي، چې په کومه ژبه ترې غوښتنه وکړو په همغه ځواب راکوي.دغه (ChatGPT) د انسان په شان کلماتو، سوالونو، اشارو او اوامرو پوهیږي چې د دنیا ډېر کارونه به آسان کړي.

- همدارنګه مونږ ویلای شــوو چې ChatGPT د طبیعي ژبې پروســـس کولو وســیله ده چې د مصــنوعي ځراکت ټیکنالوژۍ لخوا پرمخ وړل کیږي . دا تا سو ته اجازه درکوي د انسان په څیر خبرې اترې او نور ډیر دسیستم سره تر سره کړي او پوښتني وکړي ځوابونه ترلاسه کړي او نور کارونه. د ژبې ماډل کولی شي پو ښتنو ته ځواب ووایی او تا سو سره د دندو لکه بریښنالیکونو لیکلو، مقالو او کوډونو کې مرسته وکړي ChatGPTاوس مهال د خلکو لپاره وړیا دی چې وکاروي.

### ده ChatGPT څخه کار اخستنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ChatGPT) له خدمتونو څخه داسې استفاده کولی شو چې لومړی باید د (OpenAI) ویب پاڼې ته ورشو او (ChatGPT) په کې وپلټو، بیا وردننه شـــو او د (Try ChatGPT) تڼۍ کېکاږو. که مو له دې وړاندې په (OpenAI)ســـا یټ کې اکو نټ نه وي جوړ کړی با ید لومړی پکې یو اکو نټ جوړ کړئ او وروســـته د (ChatGPT)نه استفاده کولی شئ.د (ChatGPT) حساب ته په ورننوتلو سره باید د (Log in) تڼۍ کېکاږئ او که مو نوی ثبت نام کولو باید د (Sign Up) تڼۍ کېکاږئ او وروسته یې په ډېره ا سانۍ له خدمتونه ګټه اخیستلی شو، خو یو شرط یې دا دی چې باید په هغه هیواد کې واوسئ چې هلته نوموړې کمپنۍ د دې کاریدونکي روبوټ د کارولو اجازه ورکړې ده.

یادونه :- له (ChatGPT) څخه کار اخیستل او ترې استفاده کول هیڅ ډول پوهه نه غواړي او نه هم کوم ځانګړي مهارت ته اړتیا شته بلکې په پوره راحتۍ سره ګټه ترې پورته کولی شئ.تاسې کولای شئ هر ډول پوښتنه ترې وکړئ او هر ډول مرسته ورڅخه وغواړئ چې په څو ثانیو کې یې درته علمي ځواب درکوي.

## د chatGPT تاریخچه او دجوړویدو اړوند معلومات

پر مخ وړونکي یې ډله یي (Open AI) ده دلومړي ځل لپاره 2022 کال کي د نوامبر پر30 خپور شـــوي دي دا pythonپروګرامینګ ژبې لخوا په مرســـته ده C++ او نورو ژبو لیکل شـوي او جوړ شـوي دي په GPT 3.5 او GPT 4 سیستمو کي وړاندي شوي دي ده Chat GPT دنړي د مشهوره کسانو لکه ایلین ما سک او نورو لخوا تمویل او حمایه کیږي او تر نن ورځي پوري په پر مختلونکي ډول ورڅخه په زیاتیدونکي توګه استفاده کیږي....

## ChatGPTڅنګه کار کوي

ChatGPTڅنګه کار کوي او کوم شـــیان دي چې دهChatGPT سره دکار په کولو کي مرســـته کوي په دې اړه لاندي مواردو ته اشاره کوو

- ✓ **ده معلوماتو مخکې ثبت او روزنه**

لومړۍ اصـــطلاح چې موږ یې د ChatGPT په اړه ګورو د تولید دمخه روزنه ده. د دې روبوټ نوم د ورته جملې لنډیز دی او معنی یې د "مخکې زده کړې تولیدونکی" دی. د "مخکې زده کړې" برخه پدې مانا ده چې ستاسو بوټ مخکې له دې چې له خلکو سره خبرې وکړي او یا ځواب ووایي دهغه اړوند ډیټا په نوموړي کي ثبت وي . د Chat GPTپه اصطلاح کې د "تولید کونکي" برخې معنی داده چې ChatGPT کولی شي هغه معلومات وکاروي چې دمخه یې زدکړي وي یعني په ده کي ثبت شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✓ لوی ژبني ماډل

LLMیا د ژبې لوی ماډلونه د هو ښیار روبوټونو په څیر چلند کوي چې کولی شي د انسان وینا او ژبه درک کړي. د دې ماډلونو په کارولو سره ډیزاین شـــوي روبوټونه کولی شي پوه شي په هغه څه چې تاســـو وایئ لکه څنګه چې تاســـو د خپلې کورنۍ او ملګرو سره خبرو اترې کوئ، او همدارنګه کارکونکو ته د ځواب ویلو لپاره کارول کیدی شي.د دې په پام کې نیولو سره چې اوس مهال په دې ماډلونو کې ډیري ژبې شـــتون لري، دې ته لوی ژبني ماډل ویل کېږي . دا معلومات دوی سره مرسته کوي چې د مختلفو مسلو په اړه کوم کې دوي معلومات لري خبرې وکړي.

✓ د ماشین زده کړه

ده سیستم سره مرسته کولاې شي چې زده کړه وکړي او نموني تشخیص کړي چې په Chat GPT کې یوه له ډیرو مهمو برخو څخه ده چې کولاې شي ده ســـیســـتم سره په زدکړه او دنمونو په تشـــخیص کې مرســـته وکړي دنموني تـشخیص لکه په په سیـستم کې چې دیو څیز انځور ثبت وي سیـستم کولاې شي دهغه انځور اړوند نور انځورونه وپیژني لکه دیوه مـشهوره ځهري او یا انسان عکس چې دهغه په وسیله دې کولاې شي دهغه انسان نور عکسونه وپیژني.

✓ د زده کړې انتقال

بله په زړه پورې مو ضوع د لیږد زده کړه ده. دا طریقه د خو ملګرو ترمنځ د پوهې شریکولو په څیر ده. په بل عبارت، د هغه څه په څیر چې تاســـو د خپلو ملګرو سره د خپلو معلوماتو شریکولو لپاره کوئ، کمپیوټر هم کولی شي خپل معلو مات نورو کمپیوټرونو ته انتقال کړي.د مثال په توګه، که یو کمپیوټر زده کړي وي چې څنګه مختلف ډوله حیوانات پیژني، دا ورته پوهه بل کمپیوټر ته هم نقلیدلې شي چې بیا هغه کمپیوټر هم اســـتفاده کولاې شي. دا به په ماشینونو کې د زده کړې پروسه ډیره چټکه او داکار په اسانه کولو که به ګټور تمام سي.

**د Chat GPTکارونه او ننګوني:**

نوموړي ټکنالوژۍ په اوسني وخت کې دکارونو داسانه کولو ترڅنګ دژوند په مختلفو برخو کې اسانتیاوي رامنځته کړي دي چې ددي اړوند په ښـــونه او روزنه ســـیاســـت معلوماتو اقتصـــادي اړخونه او داسي نورو ډګرونو کې یې اسانتیاوي رامنځته کړي دي ددي اسانتیاوو او خدماتو څخه یې دځینو یادونه کوو«

✓ :کوډ لیکل او برنامه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده GPT ټکنالوژۍ کولاي شي په کوډ لیکلو او پروګرام کولو او دهغه اړوند نظریو ورکولو کي مرسته وکړي ددي په وسیله مونږ کولاي شوو خپل یو پروګرام ددي ټکنالوژۍ په مرسته جوړ کړو یا هم دده څخه دپروګرام جوړولو نظریه او مرسته واخلو.

✓ :ده کود اصلاح او دتیروتنو کشف

دا ټکنالوژۍ دخپلو معلوماتو پر اساس کولاي شي په یوه لیکل شوي کوډ کي غلطي کشف کړي چي دا زمونږ سره ډیره زیاته مرسته کولاي شي ځکه که چیري مونږ یوه زیاته اندازه کوډ ولیکو او په هغه کي غلطي موجودي وي نو مونږ نشو کولاي هغه په اساني سره پیدا کړو خو GPT زمونږ سره ددغه ډول غلطیو په پیداکولو او هغه ته یوه دحل لاره موندلو کي مرسته کوي.

**:په بانکي چارو کي ده GPT مرسته او ګټي**

په بانکي چارو کي دا ټکنالوژۍ ډیره ګټوره ده په لاندي ډول ورته اشاره کوو

✓ **ده پیر ودونکو سره مرسته**

داټکنالوژي کولاي شي دیوه مجازي معاون په توګه کار وکړي تر څو په بانکونو کي دپیرودونکو سره مرسته او ملاتړ چمتو کړي لکه په مکرر ډول پوښتل شویو سوالو تن ځواب ویل ، دبیلانس اړوند معلومات ،ده لیږد تاریخ، پوښتنو ته ځواب ویل ،هندارنکه دحساب فعال کول او غیر فعاله کول دپټ نوم یا password بیا تنظیم کول او جوړول او همدي ته ورته شیان چي دا ټکنالوژۍ پکي کار کوي.

✓ **د محصول او خدماتو سپارښتنې**

په دې برخه کې، GPTکولی شي د پیرودونکي اړتیاو او غوره توبونو پراساس محصولات اوخدمات وړاندې کړي، یا د سپما حسابونو، کریډیټ کارتونو، پورونو، او نورو مالي وړاندیزونو پرانیستلو لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

✓ **د درغلۍ کشف**

دا مصنوعي ذهانت د احتمالي درغلیو فعالیتونو مخنیوي لپاره کارول کیدی شي ChatGPT .کولی شي جعلي او مشکوک لیږدونه وپیژني او د بانک امنیتي ټیم ته خبر ورکړي.

**د ژبې ژباړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داټکنالوژي ده ژبې د ژباړې یوه عالي وسیله ده او تاسو سره مرسته کوي چې په مختلفو ژبو کې د خلکو سره پرته له کوم خنډ لکه د ژبې متخصـــص اړیکه ونیســـئ GPT .چیټ له یوې ژبې څخه بلې ته د متن په ژباړلو کې لوړ سرعت لري او دا په لوړ دقت سره کوي ، او لامل یې د طبیعي ژبې پرو سس کولو وړتیا او پراخه پوهه ا ساس دی. همچنان ، د ماشـــین زده کړې په واســـطه ، دا کولی شي د خپلو غلطیو څخه زده کړي او د وخت په تیریدو سره اصلاح کړي.

## د منځپانګې تولید

د ChatGPT د پام وړ وړتیاو دا د دقیق او کیفیت لرونکي مینځپانګې تولید لپاره مسلکي وسیله ګرځولې. نو د دې په مرسته تاسو کولی شئ د انسان په څیر لیکل شوي مینځپانګې او پوسټونه تولید کړئ. د GPT په مرسته، تاسو کولی شئ په هر وخت کې د بلاګ پوسټونه یا د بازار موندنې اغیزمنې مینځپانګې رامینځته کړئ.

## ده موضوعانو لیکل ، سمول او نظریات

دا وسیله د دې وړتیا لري چې تاسو ته ستاسو د موضوعاتو لپاره نوي نظرونه درکړي او د جملو بیا لیکلو یا حتی د بشـپړ پاراګرافونو چمتو کولو کې مرســته وکړي، ګرامر ســم کړي، او نور پیچلي کارونه لکه د متن اصـلاح کول او ایډیټ کول. د ChatGPT پراخه پوهه او د ژبې مهارتونه دا وړتیا ورکوي چې تا سو سره ستا سو د لیکلو نبه کولو کې مرســـته وکړي او تخلیقي خنډونه لرې کړي. په هرصـــورت، دا مهمه ده چې یادونه وکړو چې د تولید شـــوي مینځپانګې کیفیت او دقت ډاډمن کولو لپاره د انسان نظارت او ترمیم لاهم خورا مهم دی.

## د قانوني اسنادو لیکل

ChatGPTکولی شي د وکیلانو او خلکو سره مرسته وکړي چې د قانوني اسنادو لیکلو ته اړتیا لري. داټکنالوژي د خلکو سره د قانوني مفکورو په څېړنه او د اســـنادو چمتو کولو کې مرســـته کوي، او همدارنګه کولی شي د قانوني مفکورو رســـولو لپاره مناســـبه ژبه او جوړښـــت چمتو کړي. سربیره پردې ، هغه خلک چې د وکالت په برخه کې مشورې ته اړتیا لري کولی شي د GPT Chat څخه مرسته ترلاسه کړي.

## د ښوونځي او پوهنتون دندې لیکل

GPTد زدکړیالانو او محصـــلینو لپاره یوه په زړه پوری وســـیله ده چې کولی شي د دوی سره د دندې لیکلو کې مرسته وکړي. داکولی شي تا سو ته تخلیقي او په زړه پوري نظرونه درکړي ترڅو تا سو وکولی شئ خپل کورنی کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوره ممکنه طریقه ترسره کړئ. د کور کار کولو کې د وخت خوندي کوي او تاسو سره مرسته کوي خپل کار په غوره طریقه ترسره کړئ.داټکنالوژي پروفیسورانو ته هم وړاندیز کوي . که تا سو د ښوونې لپاره د يوې نوې لارې په لټه کې یا ست، داټکنالوژي به تا سو سره مرسته وکړي او همدارنګه, کولای شي د روزنې په ځانګه کې د وخت خوندي کولو او موثریت او فعالیت ته وده ورکړي

**د روغتیا پاملرنې**

د ChatGPT یو خدمت د روغتیا پاملرنې په برخه کې دی GPT .د روغتیا پاملرنې پورې اړوند لامحدود معلوماتو سرچینې لري او د ډاکټرانو سره مرسته کوي د ناروغانو سره ښه اړیکه ونیسي. دا مصنوعي هو ښیارتیا کولی شي د ناروغۍ په تشـخیص او درملنه کې ډاکټر او ناروغ سره مرسـته وکړي. د پیاوړې ChatGPT انجن د طبي لیږد، د ناروغ تعقیب، د ناروغانو معلومات لنډيز کولو، او داســې نورو لپاره کارول کیدی شي. په دې قضــیو کې د ChatGPTکارول د ناروغ څخه ډیر دقیق او هراړخیز معلومات ترلاســه کولو ته اجازه ورکوي ، پدې حالت کې ډاکټر د ناروغۍ په تشــخیص او د درملنې مرحلو موندلو کې غوره فعالیت کوي. همچنان ، ChatGPTد ناروغ لپاره معاون کیدی شي ترڅو ناروغ وکولی شي له هغه څخه خپلې طبي پو ښتنې وکړي او د ناروغۍ په وخت تعقیب او درملنې لپاره طبي مرکزونو ته مراجعه وکړي.

**په عمومي توګه نور فعالیتونه**

په ټولیز ډول، ChatGPTد خپل پرمختللي ژبې پروسس کولو وړتیاوو او د انسان په څیر غبرګونونو سره په مختلفو برخو کې مختلف فعالیتونه ترسره کولای شي. که دا د لټون تجربو ته وده ورکول شي ، نو د مینځپانګې رامینځته کولو کې مرســته کول، د پیرودونکو مالاتړ کې انقلاب راوســتل، یا د تعلیمي وســیلې په توګه خدمت کول، ChatGPTخپل اســتعداد او وړتیا ښــودلې ده. لکه څنګه چې مصــنوعي ځراکت پرمختګ ته دوام ورکوي، ChatGPTد انساني خبرو اترو سمولو او هوښیارې مرستې چمتو کولو کې د ژبې ماډلونو ځواک ښیې.

**ولې د GPT چیټ مشهور شو؟**

او GPT ولې ده خلکو لپاره دخوښې وړ وګرځیدل کومې ځانګړنې لري؟

- ✓ :د کارونکي دوستانه چاپیریال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ســاده او اســانه کاروونکي چاپیریال کاروونکو سره مرســته کوي چې پرته له کومې ســتونزې دا پلیټ فارم وکاروي. هر نوي پیل کونکي ، کولی شي خپله پوښــتنه وکړي او په ورته وخت کې ځواب ترلاســه کړي پرته له انتظاره

## شتون او اسانتيا

د امریکایی ټکنالوژۍ پو اډم کونر په وینا ، د GPT د خورا مشــهور کیدو لامل دا و چې دا خلکو ته په داســې طریقه د لاسرسي وړ دي چې دوی په ا ساني سره پوهیدلی شي. د ټولې نړۍ خلک دې مسلکي وسیلې ته لاسرسی لري او دا هیڅ پیچلي او جلا وسیلو ته اړتیا نلري.

## تخليقي او غير متوقع ځوابونه

د GPT د معرفي کولو په پیل کې، کاروونکو دا د ســاتیرۍ لپاره د یوې وســیلې په توګه کارولې، مګر د GPT تخلیقي او په زړه پورې غبرګونونه د کاروونکو ترمنځ د هغې د شهرت لامل شو.

## استعداد او ګټورتوب

له پیل څخه، کاروونکو وموندله چې ChatGPT کولی شي د مختلفو دندو سره مرســته وکړي لکه د مقالو لیکل، کوډ کول، او د کار کونکو لپاره د پروګرامونو جوړول. د دې انعطاف او د انساني غبرګونونو رامینځته کولو وړتیا دا په بیلابیلو صنعتونو او مسلکونو کې ارزښتناکه کړې ده.

## دقيقيت

ChatGPTپه پرمختللي مصــنوعي ځراکت ټیکنالوژیو ســمبال دی چې د کاروونکو پوښــتنو ته دقیق او اړونده ځوابونه وړاندې کوي.

## وړیا

د ChatGPT کاروونکو ته وړیا شــتون لري. هرچا ته اجازه ورکوي چې دا پرته له کوم لګښــت څخه وکاروي . دا وړیا لاسرسی د کاروونکو په شمیر کې د چټک زیاتوالي لامل شوی او د دې ګړندي شهرت کې یې مرسته کړې .

**ده ګوګل او Google او Chat GPT تر منځ توپیرونه....**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي نظر کې، ChatGPT او ګوګل داسې ښکاري چې ورته هدف لري او دواړه هڅه کوي د کاروونکو پوښتنو ته ځواب ووايي، مګر هر يو يې په مختلف ډول کوي ChatGPT .د انسان سره د خبرو اترو په څير ورته فعاليت لري، پداسې حال کې چې ګوګل، د ټولو لټون انجنونو په څير، هڅه کوي په انټرنيټ کې د ډيرو ويب پاڼو څخه ستاسو د پوښتنې پورې اړوند پايلې ښکاره کړي او يو بل سره پرتله کړي. په پيل کې، موږ د دوی ترمنځ اصلي توپير ګورو،

❖ **:Chat GPT**

دهChatGPT ځواب ورکول ده انسان ده خبرو اترو په څير دي او ستاسو دموضوع اړوند ځواب بغير اضافي معلوماتو او سايټونو وړاندي کولو څخه درکوی

❖ **Google**

ګوګل ستاسو ده پوښتني اړوند سايټونه لټوي او دهغو اړوند معلومات چمتو کوي يوځای کوي او تاسو ته وړاندي کوي يعني مستقيم ستاسو پوښتنه نه ځوابوي بلکي تاسو ته دپوښتني اړوند سايټونه وړاندي کوي بيا تاسو په هغه کي خپل دخوښي سايټ خلاصولي شي.

❖ **ChatGPT**

د پيل څخه تر پايه پورې يو ګام په ګام پروسه چمتو کوي تاسو اړتيا نلري چي ده خپل موضوع په اړه ده نورو توصيحاتو غوښتلو لپاره بيا  پلټنه له سره څخه وکړي.

❖ **Google**

په ګوګل کي ده موضوع په اړه  دنور اپډيټ او بدلون لپاره بايد بيا سرچ وکړو.

❖ **GPT**

داسي کړني کولاي شي کي هغه ګوګل نشي کولای لکه ده پروګرامونو لپاره کوډ ليکل ده کود ا صلاح کول شخصي پوښتنو ته ځواب ورکول او همداسي نور کي ګوګل دهغه په اړه ګونګ دي.

❖ **GPT**

د ګوګل په پرتله ځيني محدوديتونه لري لکه GPT کولاي شي يوازي تر 2021 کال پوري پيښ شوي موضوعات او معلومات تاسو ته وړاندي کړي خو ګوګل دنن خبر هم له ځان سره لري ده GPT معلومات دځينو ټکنالوژۍ پوهانو په اند دقيق نه دي نسبت ګوګل ته..

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ❖ ده گوگل مفید والي نسبتاً GPT ته

گوگل د وروستي تازه معلوماتو سره لوی ډېټابیس لري

گوگل په خپل ډېټابیس کې له سل ملیارد څخه ډېر ویب پاڼې لري. د دومره قوي او لوی ډېټابیس سره ، تا سو به په ثانیو کې په گوگل کې خورا اړونده پایلې ترلاســه کړي . دا مســله په ChatGPT کې شــتون نلري، دا مصــنوعي ا ستخباراتو بوټ په حقیقت کې دقیق او لنډ ځوابونه وړاندې کوي، مگر د هغې پوهه محدوده او تر یو ټاکلي وخت پورې ده، او دا وړتیا نلري چې په دوامداره توگه خپلې پایلې تازه کړي.

گوگل د کاروونکو ځواب ورکولو لپاره ډېری میتودونه کاروي گوگل کاروونکو ته د ځواب ورکولو لپاره مختلف میتودونه کاروي لکه عکسونه ویډیوگانې ، متن او نور چمتو کوي ، مگر دا مسله د مصنوعي ځراکت روبوټ کې شتون نلري.

### ❖ گوگل د هرچا لپاره وړیا دی

د گوگل د عاید اصلي سرچینه د اعلاناتو له لارې ده، او دا هیڅ پلان نلري چې تاسو ته گډون وپلوري، او تاسو کولی شئ د گوگل څخه په وړیا توگه کار واخلئ تر هغه چې تاسو غواړئ

- په پای کې دا ویلای شــوو چې گوگل او GPT دواړه خدمت ورکونکي دي او دخپلو یوزرانو سره مرســته کوي خو اوس مهال ده ChatGPT په موثره توگه ده پرمختک په حال کي ده نو ددي مقالي څخه زمونږ هدف وو چې تاســو ته نوموړي ټکنالوژي په اړه معلومات درکړو زه هیله لرم چې دغه معلومات به ستاسو ده خوښې وړ گرځیدلي او ستاسو لپاره به گټور او مفید تمام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ سره ده اړیکې او یوځای کیدو لپاره لاندې ادرسونه له لارې کولای شې

تاسو کولای شې خپل مشورې او نظریات هم ده لاندې ادرسونو له لارې راسره شریک کړې.

ده فیسبوک پته :

https://www.facebook.com/profile.php?id=100050732440633

ده واټساپ او اړیکې پته :

+93703915972

ده سوکاله او ودان افغانستان په هیله

په درنښت تاج محمد مبین

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**